(c) ketabton.com: The Digital Library

رانه د کلي ما ځيګر بيا تې شو
هغه منګي هغه ګودر بيا تې شو

څنګه منزل ته زر ور ورسېږم
چې نيمه لاره کښې دلبر بيا تې شو
آخر پښتون يم مېلمه څنګه وشرم
د يار غم کور کښې د ځيګر بيا تې شو
اشنا زما د سره کُوز نۀ کړلو
د عشق پېټې مې په سر بيا تې شو
هسې نه خلق پرې خبر شي سبا
ستا د کور خوا کښې مې څادر بيا تې شو

بيا ګل منصور په جانان هر څۀ بائلۀ
تش د لفظونو جادوګر بيا تې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځښو تا ته خوشحالېږي

چراغ ستا نه چا پېږېږي
ګلان ستا په خوا کښې خاندي
سپرلے ستا عمر ته ګرځېږي
اے ستمن د هر چا زړه کښې

بس دا یو حسرت وسېږي
کاش که ستا پښانتي ګل هم
زما کور کښې اوسېدلے
ته یو ګل یوه غوټۍ یې

یو حسینه لوښکۍ یې

د حسینو نه حسینه

د رګ کلي شهزادګۍ یې

ستا خندا سره سپرلے شي

څه عجیبه ښاپېرۍ یې
کاش که ستا پښانتي ګل هم
زما کور کښې اوسېدلے
اے زما د زړه مسګرې

اے ستمن اے جادوګرې

ستا تصویر د مینې جوړ که

اے د مینې انځورګرې
ستا منصور په تا قربان شه

اے دوښرې اے جادوګرې

کاش که ستا پښانتي ګل هم

زما کور کښې اوسېدلے

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیڅ پوه نهٔ شوم خوار نصیب دې راله ځله راکړو
خوار خودې کړم ذهن ادیب دې راله ځله راکړو

چې دې مښن کړم ستا منته خوتپوس کنؤ مه
په محبت کښې د رقیب دې راله ځله راکړو
بېګا د مونځ نه پس یو خان دُعا کښې دا سې ووې
شاهي وطن کښې د غریب دې راله ځله راکړو
هم مې ارمان قتلوي هم مې پرهر ونه چېړي
قاتل جانان، هوښیار طبیب دې راله ځله راکړو
دلته شراب او ځنګم کهٔ واورم د خطیب خبر ې
خدایا یو ځائ شراب خطیب دې راله ځله راکړو

مُلا کړي ناسته د رقیبو په تولي کښې ربه
منصور حیران یمه حبیب دې راله ځله راکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د وحشت په تورو شپو کښې سحر اوونه لید و
یار مې د کلي په کوڅو کښې سحر اوونه لید و!

د یار د هجر په دیوه بانديې مې ځان اوسېزه
لکه پتنګ مې سرو لمبو کښې سحر اوونه لید و
ماته د ژوند د ښکلا خه پته ده خه ته وايي
ما د زندان تورو تیارو کښې سحر اوونه لید و
دي
په سپین رخسار بانديې یې زلفې لکه شپې خورې
نن مې د یار په اننګو کښې سحر اوونه لید و
بېګاه مې خوب کښې د رقیب کړیوان تار تار کړو ګله
چا په ریښو ریښو جامو کښې سحر اوونه لید و
موږ نه تیکې د ژوندون په هر ډګر اونخوړې
موږ نه په دې سپیرو تندو کښې سحر اوونه لید و

